# فرد، کورنی، خیل، قوم، قبیله، ملت، ملیت، امت او بشریت پیژندنه

پوهنیار فیاض ګل مظلوم یار

د دې لیارې چې د هېواد ځوان پښت د لوست لپاره یو څه وړاندې کړو، ښه به وي چې تر( ملت ) وړاندې او وروسته رغنده جوړښتونو ته اشاره وکړو او د هغو پر تعریف لنډه رڼا واچوو.

**فرد** :یو ځانګړی شخص دی، له نورو څخه جلا ځانګړې ضرورتونه او هدفونه لري او پر بل چا یا شخص د وېشنې وړ نه دی.لکه څنګه چې په ژبه کې( غږ )د ژبې تر ټولو کوچنی واحد دی او پر نورو اجزاوو د تجزیې وړ نه دی، دغسې ( فرد ) د بشري ټولنې تر ټولو کوچنی، وروستنی او نه تجزیه کېدونکی واحد دی، هر شخص په واقعیت کې د یوې کورنۍ، خېل، قبیلې، قوم، ملت، امت او بشریت بنسټ جوړوي.

**کورنۍ** : د کورنۍ لغوي تعریف: د عمید لغت نامې د کورنۍ لفظ په ګڼو مانا ګانو سره یاد کړی دی.لکه: کورنۍ، خاندان، د کور اهل، ښځه او اولادونه.

د کورنۍ حقوقي تعریف: د کورنۍ، حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو د ټولګې څخه عبارت دي چې د یوې کورنۍ د غړو او همدارنګه د کورنۍ جوړونکو اشخاصو په مختلفو اړیکو او اړیکو باندې حاکم وي. لکه: میرمن،خاوند ،زوی،پلار، مور او .........

د کورنۍ اصطلاحي تعریف: کورنۍ یو حقوقي بنسټ دی چې حد اقل د یو سړي او ښځې د ځانګړې اړیکې پربنسټ منځ ته راځي.

د خپلو خپلوانو په ګډون د افرادو هغې ډلې ته ویل کېږي چې یو بل سره ارثي اړیکي لري.

کورنۍ د انسانانو هغه ټولنه ده چې د یو ګډ اصل له مخې سره راټوله شوې ده.

دافغانستان مدني قانون (۸۶) ماده کورنۍ په دې ډول تعریفوي:

Ketabton.com

د بشر کورنۍ د هغه خپلوانو څخه متشکله ده چې د یو شریک اصل په وسیله سره راټول شوي وي.

کورنۍ د دوو یا ډېرو کسانو هغه ډلې ته وایي چې اصلي موخه یې ماشوم زېږول اوروزل وي.یانې کورنۍ د خلکو هغه ډلې ته وایي چې دوینې یا خپلوۍ په اړیکې سره تړلي وي، په هره ټولنه کې د کورنۍ چلند بېلابېل وي او همدا چلند یې د ټولنپوهنې د شاګردانو د پام وړ موضوع ده، پوښتنه داده چې کورنۍ دومره مهمه اداره ده، نودنړۍ ټولوټولنوپه شریکه ولې یوه معیاري کورنۍ دبیلګې په توګه رامنځته نه کړه، داسې کورنۍ چې دنړۍ ټولو وګړو منلې او سره پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغږي وي. دليل يې دادی چې په هره ټولنه کې ژونداو دخلکو چلند مختلف وي اوناشونې ده چې ټول دې په يوه ډول وي.

د اسلامي نظريې له مخې حضرت ادم اوحوا دځمکې په مخ لومړنۍ کورنۍ رامنځته کړه. اسلام دنکاح امروکړ چې ښځه اونر سره يوځای شي اوکورنۍ رامنځته کړي.

- ارسطو وايي: هغه بشر چې ټولنه کې يوازې ژوندکوي ياخدای دی ياحيوان. بشر ټولنيز موجوددی. خپلې اړتياوې په يوازې ځان نشي پوره کولای ځکه کورنۍ ته اړکېږي.
- پروفيسور ميکايوروايي: کورنۍ هغه ډله ده چې دجنسي اړيکې له امله رامنځته شوې وي.
- بوګارډس وايي: کورنۍ يوه وړه ټولنيزه ډله ده، چې يو مور، يو پلاراوبچي يې په کې وي.
- ګيلن وايي: کورنۍ دهغوخلکوډله ده چې دوينې نږدې اړيکه ولري.
- ينګ اوميک وايي: کورنۍ ددوو ياډېرو کسانو هغه ډله ده چې په خپلوکې دوينې، واده ياخپلوۍ اړيکه ولري.
- نمکاف وايي: کورنۍ دمور، پلار اوبچوټولنه ده.
- ويليم ګراهم سيمنروايي: کورنۍ هغه ټولنيزه اداره ده چې دوه نسلونه ولري اوپه خپلو کې يې د وينې خپلوي يااړيکه وي.

په انساني ټولنه کې د افرادو هغې ډلې ته وايي چې په يوه کور کې ژوند کوي او يو بل سره د وينې شراکت يا اړيکې لري. کورنۍ د بشري ټولنې يو واحد دی .ځينې بشر پوهان بيا مور او اولادونه يانې (مېړه، ښځه او اولادونه )چې د يوې کورنۍ هسته ګڼل کېږي او تر دې لږ څه په لويه کچه، خپل او خپلوان چې په يوه ګډ ځای کې اوسېږي، دې ډول جوړښت ته (کورنۍ )وايي .د کورنۍ يو بل تعريف په دې ډول دی :د پلار، مور او اولادونو په ګډون د افرادو يوه ډله ده چې معمولاً د پلار تر رياست لاندې ژوند کوي. د دې تر څنګ ( کورنۍ ) لږ په لويه کې داسې تعريفوي:

**خېل** :په ډېرو قومونو او ملتونو کې د( خېل )پوړۍ نه شته، خو په پښتو کې دا پوړۍ ډېره څرګند ده او موږ د پښتنو په هره قبيله کې څو څو خېلونه لرو. خېل په دې ډول تعريفيږي :د څو کورنيو يوه ټولګه ده چې واحده منشا لري. خېل په يوه محدوده جغرافيه کې اوسي او زيات جغرافيايي پراخوالی نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قبیله** :د څو کورنیو ، خېلونو ، ټبرونو یا طایفو یوه ټولګه ده چې ګډ اقتصادي اړیکي او د وینې ګډه ریښه لري .د قبیلې یو بل تعریف دا دی :د کورنیو داسې یوې ټولګې ته ویل کېږي چې مشترک نیکونه ولري او دا نیکونه واقعي بڼه لري.

قبیله[۱] هم د ټولنیز نظام یوه کړۍ ده، په دې کې بیلابیلې ډلې یا قومونه را ټول شـوي وي یا په بله وینا دا هغه ښـځي او نـارینه دي چې پـه خپلو کې دوینې اړیکـه ولري، په یوه ځانګړې جغرافیه کې ژوند کوي او د خپلوۍ احســاس پـه کې وي. همدا قبیلې زیاتره ســیاســي، ټولنیزې، اقتصــادي او مذهبي مسولیتونه ترسره کوي.

د یوې قبیلې خلک له یوه نسله وي، رسمي، رواجونه او کلتوري پانګه یې سره ورته وي، په کلیواله ټولنه کې کډوال (کوچي ) قبایل ډ پر لیدل کېږي.

ځېنې نور بیا قبیله په دې ډول تعریفوي :یو ټولنیز جوړښت دی چې څو کلي، ناحیې او خېلونه رانغاړي، مشترک فرهنګ، واحده ژبه، ګډه ځمکه او واحد نوم لري. طبیعي خبره ده چې ګډ اقتصادي اړیکي لري او جغرافیایي محدوده یې نسبتاً پراخه ده.

**قوم** :د قبیلې په انډول لوی ټولنیز جوړښت دی چې کېدی شي له څو قبیلو څخه جوړ وي، نسبتاً عصري ژوند او صنعتي اقتصاد لري.ځېنې بشر پوهان بیا قوم په دې ډول تعریفوي:د انسانانو هغه ډله ده چې د اصل و نسب ګډه ریښه لري، ګډ فرهنګ، ګډه ژبه، او ګډ چلند لري.

د پورتنیو جوړښتونو تر څنګ په افغاني پښتنې ټولنه کې د پښې، تپې، ګوندی، ټبر، پلرني او ځینې نورې نومونې او جوړښتونه هم شته چې زیاتره په نورو ملتونو او قومونو کې دا ډول جوړښتونه نه شته. دا ډول جوړښتونه تر ډېره بریده په عربو، پښتنو او ځینو نورو قومونو کې ترسترګو کیږي.

**ملت** :ملت ته د قران کریم په ( البقره )او( آل عمران )سورتونو کې اشاره شوې، په انګرېزي ژبه کې ورته Nation کلیمه کارېږي چې اصلا د لاتیني ژبې د Natio څخه اخیستل شوې، د( تولد کېدو ) مانا ښندي، د ملت عربي شکل په پښتو او دري ژبو کې هم کارېږي، په پښتو کې (ولس )هم کارېږي چې له ملت سره تقریباً مترادفه کلیمه ده، په ځینو ژبو کې( قوم )هم د ملت په مانا کاروي .ځینې پوهان وایي:

د ګډو( سیاسي، اقتصادي، نظامي او کډوالۍ او نورو )...اړتیاوو له مخې د ګډو وجوهاتو له امله د قومي ډلو ګډون ته ملت ویل کېږي. ځینې بشر پوهان بیا وایي :د قومونو هغې ټولګې ته ویل کېږي چې په واحده جغرافیه کې اوسېږي، ګډ ارزښتونه او ګډ عقاید لري.

---

۱ Tribe

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانسـانانو هغـه ډلې تـه ویـل کېږي چې دشـریک فرهنګ، نژاد، رسـنیو او دیوې ژبې اویو واحدحکومت لرونکي اویاد وحدت لرلو په هڅه کې وي.

دانسانانو هغه ټولنې ته ملت وایي چې په ثابت او دوامداره ډول په یوه معینه جغرافیایي ساحه کې ژوند ولري اودوی عمومي ګډ اهداف، منافع او ماضـي ولري او یوې مشـترکې اینده لپاره هم امیدواره وي، دملت په پېژندنه کې ددولت شـتون شـرط نه دی لکه: دکشـمېرخلک چې ملت ګڼل کېږي، حال داچې دولت یې ثابت نه دی خو دنفوسو لپاره ددولت شتون شرط دی.

ټولنپوهان په دې نظر دي چې د یوه نژاد او وینې پر بنسټ د یوه سوچه ملت جوړېدل ناممکن دي. دوی وایي: کېدی شي د یوه دین، یوه نژاد اویوې ژبې خلک په بېلا بېلو هېوادونو کې ژوند وکړي. خو خپلواک ملتونه وي. دوی د ساري په توګه د( سویس )هېواد یادوي، چې خلک یې په الماني، فرانسوي، لاتیني او ایټالوي ژبو خبرې کوي، خو سویس یو ملت دی. ځېنې بیا دې ډول ملتونو ته (قراردادي )ملتونه هم وایي. امریکا متحده ایالات ، کاناډا ، بلجیم او ځینو نور هم په دې ملتونو کې ګڼل کېږي. د بشرپوهانو په نظر( ګډه جغرافیه، د یوه واحد دولت تابیعت، ګډې ګټې او زیانونه، ګډ ارزښتونه او باورونه د یوه ملت جوړونکي عناصر دي ) )ځینې نور بیا خبره نوره هم رالنډوي او وایي(( :د یوه واحد دولت وګړي یو ملت دی ) )

ملت یوې داسـې ټولنې ته ویل کېږي چې اوسـېدونکي یې د یوې ځانګړې جغرافیې دننه د یو واحد دولت تر کنټرول لاندې په یوه داسې سیاسي ټولنه کې ژوند کوي، چې په ګټو او زیان کې ګډ وي، ګډ ارزښتونه ولري او ویې وپالي. په ملت جوړونه کې دولتونه، ولسونه او خلک سره یو ځای کیږي او په داسې ډول ترې یو ملت جوړوي، چې په اوږده موده کې ددغه هېواد د ثبات سبب شي.

پـه ملت جوړونـه کې ټولنیزه همـاهنګي او اقتصـادي وده ډېره مهم ګڼـل کېږي. پخوا یې د ملت متشـکله عناصر یوه قومي او نژادي منشا ، ګډ مذهب، ګډه ژبه، ګډ کلتور، واحده جغرافیه او ګډ تـاریخ ګڼـل، چې دا ټول په یو وخت کې، نه پخوا او نه اوس د نړۍ په ملتونو کې پیدا کېدی شـي، خو هر یو یې تر یوه حده رول لري. که دا ټول عناصـر حتمي وي، نو ممکن په نړۍ کې ډېر کم ملتونه موجود وي. د نړۍ څه د پاسـه ۲۰۰ هېوادونو په یو کې هم یوازې یو ملت ژوند نه کوي، همدا راز په دغو ۲۰۰ هېوادونو کې یوازې ۱۳ هېوادونـه دي، چې یوازې یوه ژبـه پـه کې ویـل کېږي او یوازې پـه یوه کوچني هېواد کې چې یوه جزیره ده یوازې یو مـذهب لري او په نورو ټولو هېوادونو کې تر یوه د زیاتو قومونو او ژبو خلک او د بېلابېلو مذهبونو پیروان ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت او ملیت یوه مانا لري؟ پر افغانستان باندې د پخواني شوروي تر یرغل وروسته د( ملیت ) اصطلاح د یوه قومي تشکل لپاره وکارېدله، تردې وړاندې دا اصطلاح په دې مانا نه کارېدله، د روسانو هدف دا و چې د افغانستان لږ کیو قومونو ته د( ملیت )په نامه د هویت یوه نوې بڼه ورکړي او هغوی ګنې په دې اصطلاح کې لږ شان لوی وښیي او له پښتنو سره یې د کمي انډول کچه برابره کړي، روسانو په دې اصطلاح کې خپل سیاسي اهداف درلودل، د کلیمې د حقیقي مفهوم له مخې (ملیت )قومي یا ټولنیز جوړښت نه دی. (ملیت) (Nationality ) ده او ( ملیت) ( Nation ) دی ملیت په واقعیت کې د( ملت )څرنګوالی او جوهر تشریح کوي، خو روسانو دا کلیمه دلته د قوم او ملت ترمنځ د یوه بل تشکل لپاره وکاروله.د ساري په توګه له یوه جرمن څخه که وپوښتل شي هېواد دې کوم دی؟ هغه به ووایې جرمنی،(ملیت) دې څه دی؟ نو هغه به ووایي ( ) ( به وایي جرمني، یا لکه له کوم افغان څخه چې په بهر کې د( ملیت )په باب وپوښتل شي نو هغه به ووایي افغان یم.پاتې دا چې( ملیت )د( ملت )تشریح ده نه قومي تشکل.

**امت** :تر( ملت )نسبتاً لویه دایره ده، کېدی شي د څو ملتونو یوه ټولګه په کې راټوله وي، امت په لغت کې( هر شیز )ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د هغو خلکو ټولګې ته ویل کېږي چې ګډ اعتقادي، سیاسي او معنوي ارزښتونه لري. ځینې بیا( امت )همغې ډلې ته وایي چې واحد امام ولري.

د( امت )کلیمه په قران کریم کې( ۶۴ ) ځله راغلې ده. د مشر، لارښود ، نمونه، دین او ائین ماناګانې رانغاړي. یا د انسانانو هغې ډلې ته وایی چې د یوې عقیدې پلوي کوي.

د( اسلامي امت )مفهوم هم له همدې مانا څخه الهام اخلي،( اسلامي امت )په پراخ مفهوم سره هغه خلک دي چې ګډ اعتقادات او واحده قبله لري.حضرت علي ( رض )دیني او الهي ټولنې ته امت وایي.

د اسلام په سیاسي نظریاتو کې د( امت )اصطلاح کارېږي او هغو خلکو ته چې د نژاد ، رنګ او ژبې له توپیر پرته په اسلامي حکومت کې اوسېږي، ټولو ته اسلامي امت وایي، د امت اساسي بنسټ اعتقاد دی، نه رنګ، ژبه، وینه او نژاد.

**بشریت** :په بشري تشکل کې د بشریت اصطلاح هم کارېږي، تر اسلامي امت وروسته د بشریت اصطلاح یوه لویه او پراخه دایره رانغاړي، د بشر هر ډول، په هر اعتقاد چې وي، ټول په دې دایره کې شاملېږي، بشریت په حقیقت کې د( بشر )څرنګوالی ښیي، لکه( ملیت )چې( ملت )توضیح کوي.

د پورته اصطلاحاتو له تعریفونو څخه هدف دا و چې کله کله ځینې خلک له ټولنیزو اصطلاحاتو څخه ناسمه ګټه پورته کوي او یوه ټولنیزه اصطلاح هم د سیاسي غرضونو لپاره کار وي، دا هره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصطلاح ځانته پراخه توضيح او تشريح غواړي، خو په دې ليکنه کې يوازې په لنډيز سره ورته اشاره وشوه.

ماخذونه


۱. يون،محمد اسمعيل. (۱۳۹۷). ملي هويت ملي عزت. د افغانستان ملي تحريک: فرهنګي څانګه

۲. مظلوم يار،فياض ګل.(۱۳۹۹). د ټولنپوهنې بنسټونه. جلال اباد: اصلاح افکار خپرندويه ټولنه.

۳. مظلوم يار، فياض ګل.(۱۳۹۸). د افغانستان سياسي جغرافيه. جلال اباد: اصلاح افکار خپرندويه ټولنه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**